# حاجي حسېن شاه

## يو نوم ورکے خدائي خدمتگار

سېد کمال شاه ايډووکېټ

هندوستان د انگرېزانو د زورواکۍ نه ازادولو کښې خدائي خدمتگار تحريک يو ځانگړے کردار ادا کړے دے. د دې تحريک ټول غړي د خپل لارښود باچا خان پاخۀ او باوري ملگري وو او د هغۀ سره هرې سختۍ زغملو ته په روڼ تندي تيار ولاړ وو.

تاريخ اگر چې خدائي خدمتگار تحريک خپلو پاڼو کښې خوندي کړے دے خو د څۀ نا څۀ وجې نه د دې تحريک ډېر مجاهدين غړي د تاريخ د ذکر نه پاتې شوي دي يا ئې حالات نيمگړي دي. د تاريخ د ذکر نه پاتې دغو بې نومه مجاهدينو کښې يو نوم د حاجي حسېن شاه هم دے چې د ستر فخر افغان خان باچا خان ډېر نزدې ملگرے ؤ.

حاجي حسېن شاه په خټه محمدزئے شلاخېل ؤ د پلار نوم ئې احمد او د نيکۀ نوم ئې سېد علي ؤ. د دوي مشران د اتلسمې پېړۍ په وړومبو کلونو کښې د نوښاره مايار کلي ته راپه کډه شوي وو چې دلته د خپلې ديندارۍ له کبله په اخون زادگانو مشهور شو. حاجي حسېن شاه په کال اتلس سوه پنځۀ اتيا **1885** کښې پېدا شو. دا هاغه وخت ؤ چې د پښتنو دا سيمه د نور هندوستان په شان د پېرنگي د زورواکۍ په ولقه کښې وه.



حاجي حسېن شاه چې د ځوانۍ په درشل قدم کېښود نو خپله پلرنۍ پېشه کروندگري ئې شروع کړه. هم په دغه اړوند يوه ورځ (د هغۀ د خپلې خُلې د بيان سره سم) هشت نگر ته د فارمو گنو د راوړلو د پاره ئې د غوايانو گاډے بوتلے ؤ، په دغه وخت باچا خان راغونډو خلقو ته وينا کوله، دے هم ورنزدې شو وينا ئې واورېده او ډېر اثر ئې پرې

وشو. د تقریر نه پس ئې باچا خان سره لیدۀ وشو او د خبرو اترو نه پس ئې زړۀ نور هم د باچا خان مقصد باندې ورغے او د مایار کلي د دورې کولو بلنه ئې ورکړه. باچا خان په ټاکلي وخت د مایار کلي دوره وکړه او د خپلو هلو ځلو پېل ئې وکړو. دغه شان حاجي حسېن شاه په مایار کلي کښې وړومبے کس ؤ چې د خدائي خدمتګار تحریک ملګرے شو. په تحریک کښې کپتان شو او د تحریک په مبارزو کښې به ئې عملي برخه اخسته.

په کال نولس سوه نهۀ ویشت 1929 کښې په وړومبي ځل ګرفتار شو، کله چې پېرنګیانو د خدائي خدمتګار تحریک د ختمولو دپاره هر ډول زور زیاتي ته لاس واچوو، خلق به ئې وهل ټکول، سرې جامې به ئې ورله سوزولې او یخ ژمي کښې به ئې په یخو ډنډونو کښې غوپې ورکولې.

پېرنګیانو د تحریک نه لاس په سر کولو دپاره هم دغه شان خلق په مایار کلي کښې د خلافت جومات شاته راغونډ کړي وو، خدائي خدمتګاران په یو ځائے ودرولې شو او په جامو سوزولو ئې پېل وشو، په دغه ټولو خلقو کښې یو صدر فردوس خان او یو حسېن شاه ؤ چې د باچا خان د ملګرتیا نه لاس په سر نۀ شو نو بس بیا څۀ وو دواړه ئې دومره په بې رحمئ ووهل چې بې خوده شو، د دې نه وروستو ورله د یخو اوبو ډنډ کښې غوپې ورکړې شوې او د بې هوشئ په حال کښې حوالات ته یوړل شو، په حوالات کښې د حسېن شاه لیدو له پلار ورغے چې د زوئے حالت ئې ولید نو په ژړا شو خوا کښې یو بنوڅے سنتري ولاړ ؤ د پلا ر نه ئې ورله تپوس وکړو چې بابا دا دې څۀ دے هغۀ ورله جواب ورکړو چې زوئے مې دے، هغه سنتري ورته ووې چې بابا خدائے درله دومره بهادر او کلک زوئے درکړے دے او تۀ ورته ژاړې. تۀ خو پرې فخر کوه او خوشحالېږه. دې سره درې کاله قېد شو او باچا خان سره ئې په ببلابېلو جېلونو کښې سختئ وګاللې. په دوېم ځل د قیوم خان دور کښې ګرفتار کړے شو کله چې په مردان کښې جج ته پېش کړے شو، جج ترې تپوس وکړو چې پاکستان خو جوړ شوے دے اوس څۀ غواړئ، دۀ ورله جواب ورکړو چې پاکستان جوړ شوے دے، پېرنګے تلے دے خو بچي ئې پاتې دي، ستا مخې ته قرآن پروت دے، کۀ انګرېزي کتاب؟ مونږ خو د باچاخان ملګري یو، هغه څۀ غواړو چې باچا خان ئې غواړي، جج حکم واورولو او د درېو کالو دپاره ئې جېل ته ولېږو، د جېل نه چې ازاد شو نو څۀ موده پس حج ته لاړو چې د حج نه راستون شو نو وړومبئ مارشل لا ولګېده او دے ګرفتار کړے شو او بیا درېو کالو دپاره د ملتان جېل ته واستولے شو. ملتان کښې چې د خراب خوراک او د جېل د سختئ له کبله سخت نارغه شو او مرګي حال شو نو یو نیم کال پس په ضمانت د ډاکټرانو په وېنا خوشې کړے شو او مردان ته راوړے شو کله چې ئې حالت په رغېدو شو په هوش کښې شو، پته ورته ولګېده چې دے په ضمانت خوشې کړے شوے دے نو ډېر خفه شو، وئیل ئې چې په جېل کښې مړ بۀ وم خو په ضمانت به مو نۀ راوېستم.

حاجي صېب د دې نه پس د کلي د نېپ د تنظیم صدر پاتې شو او د ایوب خان په دور کښې د بي ډي ممبر هم جوړ شو، د کلي خلقو به ئې ډېر قدر کولو او د خپلو سپینو خبرو دپاره مشهور ؤ، کله چې ډېر

کمزورے شو او د ګرځېدو نه پاتې شو نو ډېر زاړهٔ ملګري لکه د طورو مولانا عنایت الله، مولانا ګل بادشاه، خلمے بابا، د چارسدې تسبیح الله خان به ئې لیدو ته راتلل، دوي به اکثر د باچا خان او د خدائي خدمتګارو په حقله خبرې کولې.

د حاجي صېب حافظه ډېره قوي وه، دهٔ به اکثر د خدائي خدمتګار تحریک د جلسو جلوسونو او د جېل د ملګرو قصې کولې او د هاغه زمانې د شاعرانو لکه شاد محمد مېږے، عبدالمالک فدا نظمونه ورته په یادو یاد وو او ډېرې قصې ئې مونږ په آډیو کېسټ کښې خوندي کړې دي. وئیل ئې چې یوه ورځ مې باچا خان نه تپوس وکړو چې باچا خان مونږه به تر څو د دې خلقو زور زیاتے وړو، نو باچا خان راته جواب راکړو چې حسېن شاه تهٔ دومره زر ستړے شوې، دا مونږ د صبر جنګ شروع کړے دے او کهٔ خبر وې نو دا به په لوئے صبر ګټو.

د باچا خان سره د حاجي صېب بې کچه مینه وه، هر کله چې به ورسره د باچا خان په حقله خبره راواچولې شوه نو دا به ئې وئیل چې چا د فخر افغان باچا خان د صداقت غشي په زړهٔ خوړلي وي نو هغه نهٔ په ځان کار لري، نهٔ په کور او نهٔ په بچو.

یوه ورځ زهٔ لا په درېم جماعت کښې وم د بوټو اخرنے دور ؤ، زمونږ نیمه چوټي شوه، نو مانه ئې پوښتنه وکړه چې څنګه د وخته راغلې، ما ورته ووې چې خلق وائي چې باچا خان وفات شوے دے، ما دا خبره وکړه چې حاجي صېب دومره په ډرق ډرق وژړل چې ټول کور ورسره په ژړا شو، کله چې بیا پته ولګېده چې خبره دروغ ده نو ماته ئې ووې چې سرکوزیه! زهٔ دې هسې دومره وژړولم، دا خو د یو خدائي خدمتګار د باچا خان بابا سره د مینې او عقیدت حال ؤ، په باچا خان بابا هم خپل ټول ملګري ډېر ګران وو، څکه خو چې حاجي صېب په نولس سوه یو اتیا **1981** کښې وفات شو نو باچا خان ورله سره د دې چې د ګرځېدو نه معذوره ؤ او په وهیل چئیر کښې به ګرځولے شو، لاس نیوې ته راغلے ؤ.

دا خو د یو نوم ورکي خدائي خدمتګار حاجي حسېن شاه د ژوند د حالاتو یوه نیمګړې شان قصه ده چې حقیقت دے چې نوره هم څېړنې ته اړتیا لري.

نور هم ډېر د خدائي خدمتګار تحریک غړي شته چې د تاریخ د نظره پټ دي او لټول ئې پکار دي چې په تاریخ کښې خوندي شي. خبره کهٔ د پلټنې او څېړنې شي نو اوس اوس دوه زره پنځم **2005** کښې یو اطالوي مېرمن زمونږ صوبې ته راغلې وه، هغې غوښتل چې په خدائي خدمتګارانو علمي مقاله ولیکي او په دغه لړ کښې هغه کلي په کلي ګرځېده چې د خدائي خدمتګارانو د ژوند حالات راغونډ کړي. په مایارو کښې ئې د حاجي حسېن شاه د کورنۍ پته د ولي باغ نه اخستې وه، دلته ئې د حاجي صېب زامنو سره لیدهٔ وشو او د حاجي حسېن شاه غونډې د یو نوم ورکي خدائي خدمتګار د ژوند حالات ئې د مقالې په شکل کښې ځان سره خوندي کړل.

مونږ له هم پکار دي چې د باچا خان د کاروان ملګرو پسې وګرځو، پلټنه ئې وکړو او د تاریخ پاڼو کښې ورله ځائے ورکړو.